مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر

۲۰۲۳/۰۴/۰۱

# د افغانستان جمهوریت د سقوط عوامل
## د پاکستان رول
(یوولسمه برخه)

**د اسامه بن لادن د وژلو له امله پاکستان بې پرتوګه شو**



د پاکستان څارګرې ادارې اسامه بن لادن د پنجاب په ابېټ آباد کې په یو داسې کور کې ځای پرځای کړ چې د یوې دولتي ودانۍ په څېر استحکامات یې درلودل.«د نورو کورونو په پرتله ډېر لوی ؤ او (۶) کارناله مساحت یې درلود، دېوالونه یې (۱۶) فوټه لوړ وو، پر دېوالونو یې اغزن تارونه تاؤ شوي وو او د دروازو مخې ته یې سم دم خنډونه (موانع)، لکه د دولتي ادارو په څېر جوړې شوي وې. په نوموړي کور باندې میلیونونه روپۍ لګښت شوی ؤ خو د تیلیفون او انټرنېټ نښې نښانې نه پرې لیدل کېدې.» د ودانۍ له جوړښته داسې ښکاري چې نوموړی کور د (آی، اېس، آی) تر څارنې او ساتنې لاندې و.

د پاکستان د څارګرې ادارې کارکوونکو چې پر امریکایانو باندې یې د عربو د پلورلو خوند لېدلی ؤ، د اسامه نیولو په هکله یې د امریکا له څارګرو (سي، آی، اې) مسؤلینو سره مالومات شریک کړل او د (سي، آی، اې) له خوا یو تن طبي ډاکټر د اسامه د ماشومانو د (D. N. A) د مالوملو په موخه وګمارل شو، دا کس ډاکټر شکیل اپریدی ؤ چې د ابېټ آباد په هغه سیمه کې چې اسامه بن لادن په کې اوسېدۀ، د اسامه د کورنۍ (D. N. A) معاینات وکړل او بیا یې (سي، آی، اې) ته وسپارل، د ډاکټر اپریدي د مالوماتو پر بنسټ (سي، آی، اې) پر اسامه بریالي عملیات ترسره کړل.

د امریکایانو «لومړی انتخاب د توغندیو، یو ډېر دقیق برید په نظر کې وو خو تر دې عملیاتو وروسته به دوی د هغه د وژنې هیڅ ډول ثبوت نه درلودلی.
دویم انتخاب په یوه داسې شپه د ځرخي الوتکو له لارې برید و چې سپوږمۍ په آسمان کې نه وي. له دې انتخاب سره ډېر زیات خطرونه مله وو. کېدای شي امریکایي عسکر مړه شي او یا هم د پاکستاني ځواکونو سره د مخ کېدو پر وخت چې د دې عملیاتو په اړه یې خبر نه درلود، ونیول شي.» (https://p.dw.com/p/3sduc)
په پای کې دویم انتخاب ومنل شو «کله چې ځرخي الوتکې له افغانستان څخه د ابېټ آباد پر لور د ۹۰ دقیقو پرواز پیل کړ نو [امریکایي] چارواکي یوې بلې کوټې ته ولاړل چېرې چې برید جنرال (براډ ویب) دا هر څه پر یوه لیپ ټاپ څارل او د عملیاتو له مشر بریدمن (بل مک راون) سره نېغ په نېغه د عملیاتو په اړه غږېده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د سپینې ماڼۍ یو مشهور عکاس یو عکس اخیستی چې اوباما، بایډن، برینن او نور چارواکي اوړه په اوږه له برید جنرال ویب څخه راتاو دي او په ډېرې وارخطایۍ سره د برید پیلېدل نیغ په نیغه څاري.
(https://p.dw.com/p/3sduc)



مېرمن کلنټن چې د عملیاتو ننداري ته ناسته وه، له ډاره یې خپلې خولې ته د حیرانۍ لاس نیولی ؤ، وروسته یې وویل چې ما د پسرلي [موسم] د حساسیت ټوخی دردلود، نو ځکه مې خپلې خولې ته لاس نیولی ؤ.
د چورلکو «د کیناستو پر وخت یوې ځرخي الوتکي سقوط وکړ خو ځانګړي ځواکونه بیا هم ودانۍ ته په داخلېدو وتوانېدل. د ودانۍ له داخل سره هېڅ ویډیويي تماس نه وو.
برینن وایي چې کابو شل دقیقې وروسته «مک راون د عملیاتو له ځایه دا جمله واورېده ( Geronimo Geronimo) چې دا د دې عملیاتو له پاره کارېدونکی کوډ وو او دا چې بن لادن وژل شوی.
د برینن په خبره ټولو د آرام ساه واخیستله. هغه زیاتوي: «هیچا هم چکچکې ونه کړې او نه هم د خوښۍ کومه ننداره ترسترګو شوه، بلکې د کامیابۍ یو احساس وو.» (https://p.dw.com/p/3sduc)
وروسته له دې، د امریکا ولسمشر اوباما وویل چې د اسلام آباد په ۷۱ کلیومترۍ کې د ابېټ آباد په سیمه، د بلال ټاون پوځي اکاډمۍ کاکول سره نېږدې اسامه بن لادن په یوه کور کې د (سي، آی، اې) د ځلوېښت کسیزې ډلې لخوا د ۲۰۱۱ز، کال د مي پر ۲یمه نېټه، د شپې په یوه نیمه بجه له خپل زوی سره ووژل شو.
اوباما وویل:«ما د (سي، آی، اې) مشر (لیون پنیټا) ته امر وکړ چې لادن دې ژوندی ونیول شي، کنه ودې وژل شي.
د ابېټ آباد سیمه یوه پوځي سیمه ده، ځایي خلک وایي چې د اسامه اړوند کسان له تېرو پنځو کلونو را په دې خوا دلته اوسېدل.
امریکایان چې د اسامه مړی یې د اسلامي شرایطو سره سم سمندر ته د یوې تختې سره اوبو ته ورخوشی کړ، دوی وایي چې په دې موخه په سمندر کې ښخ کړای شو چې پر مړیستون یې زیارت جوړ نه شي او په راتلونکې کې سرخوږی رامنځ ته نه کړي.([1])
د پاکستان دا ډول دوه مخي سیاست نړیوال هک حیران کړل چې له یوې خوا د ترهګرۍ پر وړاندې د نړیوال ایتلاف غړی ؤ او له دې لارې یې له امریکایانو په میلیونونو ډالر ترلاسه کول خو له بلې خوا یې اسامه د یوې پوځي اکاډمۍ په څنګ کې ساتلی و، حامد کرزي وویل:«اسامه د یوې عسکري قشلې په څنګ کې ساتل کېږي او بیا هلته وژل کېږي، طالبان دي د پاکستان له دغې وروستي عمل څخه عبرت واخلي. مانا دا چې یوه ورځ به د دوی هم دا حال وي، یا دا چې طالبان د پاکستان تیار تړلي چرګان دي، کله چې وغواړي د اسامه بن لادن په څېر به یې پر امریکایانو وپلوري.

د پاکستان حکومت غبرګون دا ؤ چې اسامه امریکایانو وژلی دی موږ ترې خبر نه یو. په داسې حال کې چې د پاکستان ځیني پوځیان او (آی، ایس، آی) په عملیاتو کې یو ډول نامخامخ ګډون درلود، یو تن عیني شاهد وویل چې لومړی پاکستاني پوځیان راغلل، خلکو ته یې وویل:«د خپلو کورونو کړوپونه مړه کړئ او څوک له کورونو بهر نه شئ.»
د اسامه بن لادن په وژلو کې د پاکستانیو چارواکو لاس لرل له دې هم ثابتیږي چې د اسامه له وژل کېدو وروسته، د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې هیلیري کلنټن او ولسمشر اوباما د پاکستان له حکومت څخه مننه وکړه چې د اسامه د ځای ښودلو په اړه یې مالومات ورکړي وو، دغه خبرونه چې خبري رسنیو خپاره کړي وو، پاکستاني چارواکي یې

---

[1] - اسلامي شرایط دا دي چې د مسلمان مړی دې په خاورو کې ښخ کړای شي، سره له دې چې اسامه له زیارتونو سره وران ؤ، په هر ځای کې چې زیارت ؤ ده به په بمونو او ځانمرګو باندې الوزول چې له هغې څخه د رحمان بابا زیارت، د صوفیانو زیارت چې دوه تنه ځانوژونکي یې ورلېږلي وو، یوه یې چاودنه وکړه او بل یې د پولیسو لخوا ژوندی ونیول شو، هغه وویل:«ما ته عربو وویل چې دغه زیارت کوونکي له کفارو هم بد دي، ځکه چې دوی هر څه له مړي څخه غواړي... .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

خواشيني کړل، ښايي دوی له امريکايانو غوښتنه کړې وي چې په پېښه کې نور د پاکستان لاس لرل رسوا نه کړي چې وروسته له هغې په دې اړه هېڅ ډول خبرونه خپاره نه شول.
د جيو تلويزيون مشهور خبريال حامد مير وويل چې د نورو عربو په څېر، (آی، اېس، آی) امريکايانو ته د اسامه په اړه مالومات ورکړي وو.
د پاکستان د بهرنيو چارو جګپوړی ډيپلومات سلمان بشير په اسلام آباد کې د افغانستان د بهرنيو چارو مرستيال وزير جاوېد لودين او د افغانستان، پاکستان لپاره د امريکا ځانګړي استازي مارک ګروسمن په ګډه خبري غونډه کې وينا وکړه او پر بن لادن د عملياتو له مخامخ يادونې يې ډډه وکړه خو ټينګار يې وکړ چې هېواد يې د ترهګرۍ پر ضد جګړه کې همکاري کړې او دوام به ورکوي:
«څه چې موږ يې دلته کوو، پر راتلونکي غور دی، پر زور د اسامه بن لادن مساله اوس يو تاريخ دی، فکر کوم نه غواړو خپل ځانونه په تېر کې ښکېل کړو. زه تولو ته ور په يادوم چې پاکستان د ترهګرۍ ضد جګړه کې پياوړې همکاري درلوده، پاکستان د ترهګرۍ ضد جګړه کې خورا ډېره قرباني ورکړې ده. دا زموږ لومړۍ شمېره لومړيتوب ؤ [؟] او همدا زموږ هوډ دی چې پرې به نړدو زموږ خاوره د ترهګرۍ لپاره وکارول شي.»
افغانستان او پاکستان ته د امريکا ځانګړي استازي (مارک ګروسمن) په اسلام آباد کې خبري غونډې ته وويل چې د اسامه بن لادن لټون د ترهګرۍ ضد ګډو هلوځلو يوه برخه وه:
«درې واړه هېوادونه چې دلته راغونډ شوي، پر زور زياتي ولاړي توندلارۍ د پای ته رسولو شريکه ژمنتيا لري، درې واړه هېوادونه چې دلته يې استازيتوب شوی په دې اند دي چې د دوشنبې په ورځ د اسامه بن لادن پای د افغانستان، پاکستان او امريکا يوه ګډه لاسته راوړنه وه.
دا په طبيعي ډول د يو داسې چا پای ؤ چې د زور زياتي په کړو وړو يې په سيمه کې ديموکراتيک حکومتونه زيانمنول او د ملکيانو پر وړاندې يې د وژنو ناوړه عملونه ترسره کول، همدې کار نه يوازې د امريکا بلکې د پاکستان او افغانستان غليم ترې جوړ کړی ؤ.» (https://www.bbc.com)
پاکستانيو څواکونو ډاکټر شکيل اپريدی ونيو او د ملي خيانت په تور يې تورن کړ، د امريکا دفاع وزير چې د اسامه د نيولو پر مهال د (سي، آی، اې) مشر ؤ، د ډاکټر اپريدي په هکله وويل:«ډاکټر اپريدي زموږ سره لويه مرسته کړې ده، اپريدی نه بايد د ملي خاين په توګه وپېژندل شي، ده داسې کوم کار نه دی کړی چې پاکستان ته زيان ورسوي، که رښتيا ووايو نو دا ډول مالومات د (سي، آی، اې) له خوا يو رښتينی استخباراتي عمل دی.» (بي، بي، سي؛ آزادۍ راډيو او نورې خبري رسنۍ. ۱۳۹۰/۱۱/۹ل. ل)
نوموړی ډاکټر په (۳۳) کاله بند محکوم او ټوله شتمني يې د پاکستان د حکومت لخوا ضبط شوه. (۱۳۹۲/۳/۲ل. ل)
د ډاکټر اپريدي ورور وويل چې ډاکټر شکيل د امريکايانو له لاسه رسوا او بدنام شوی دی.
د پاکستان پر وړاندې د امريکايانو سوړ غبرګون دا څرګندوي چې د اسامه په وژلو کې د پاکستان ځينو پوځي، استخباراتي او سياسي کړيو مرسته کړې ده، لکه څه ډول چې د افغانستان او پاکستان لپاره د امريکا ځانګړي استازي، مارک ګروسمن ويلي وو:«د بن لادن وژل د افغانستان، پاکستان او امريکا ګډه لاسته راوړنه وه.»
«د امريکا د بهرنيو چارو وزيره هيلري کلنټن د ۲۰۱۱ز، کال د اکتوبر په ۲۰مه نېټه کابل ته راغله، ډېر کسان په دې اند وو چې په پاکستان کې د بن لادن له وژلو وروسته به د دواړو هېوادونو اړيکې خرابې شي او پاکستان به په افغانستان کې د نه لاسوهنې تر فشار لاندې راوستل شي. ميرمن کلنټن د مې په ۲۷مه نېټه د امريکا ستر درستيز (مايک مولن) په ملتيا پاکستان ته ولاړه، د هيئت له څرنګوالي داسې ښکارېدل چې پاکستان ته به يو ډېر مهم پيغام ورکړای شي... هيلري کلنټن پاکستان ته د خپل سفر په پای کې وويل چې په تېرو کلونو کې له بن لادن سره مرسته شوې وه چې په پاکستان کې پټ شي. هغې وويل چې د بن لادن وژل د حل لاره نه ده، د القاعدې پنډغالي په پاکستان کې د متحده ايالاتو او نړۍ لپاره تهديد شمېرل کيږي. هغې په مطبوعاتي کنفرانس کې د پاکستان له مشرانو غوښتنه وکړه چې د ترهګرۍ سره د مبارزې په برخه کې خپلو ژمنو ته ژمن پاتې شي.» (ډاکټر رنګين دادفر سپنتا: سياست افغانستان، روايت از درون:۴۱۲مخ)
ښاغلی سپنتا وايي چې د پاکستان او افغانستان لپاره د امريکا ځانګړی استازی د ۲۰۱۱ز، کال د مې په ۲۴مه نېټه، (درې هفتې وروسته د بن لادن له وژلو) کابل ته راورسيد، موږ هيله درلوده چې د يو امريکايي له خولې يې واورو چې د پاکستان په اړه د امريکا په سياست کې څه ډول بدلون راغلی دی. د افغانستان او پاکستان لپاره د امريکا ځانګړي استازي ګروسمن په خپلو خبرو کې وويل:«وروسته له هغې چې بن لادن د پاکستان په خاوره کې دننه ووژل شو، بايد پاکستان د افغانستان په سوله کې جدي مرسته وکړي... موږ له پاکستانيانو وغوښتل چې زموږ د چورلکې ټوټې بېرته راکړي، د بن لادن په استوګنځي کې ټول اسناد دې موږ ته راوسپاري، څو ادرسونو چې موږ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولئ

دوی ته ورکړي دي، د هغوی پر وړاندې دې اقدام وکړي، د افغانستان له سولې دې ملاتړ وکړي... موږ به وګورو چې پاکستانیان په دې برخه کې رښتیني دي که نه، موږ د پاکستان کړنې څارو.» (هماغه کتاب: ۴۵۴مخ)

د ۲۰۱۱ز، کال د جولای په ۸مه اوباما په یو ویډیوي کنفرانس کې ولسمشر کرزي ته وویل: ... لکه څرنګه چې تاسو په جریان کې یاست د بن لادن پر وړاندې عملیات په پاکستان کې دننه ترسره شول چې پاکستان کې یې مشکلات رامنځ ته کړي دي، موږ د پاکستان مشرانو ته په ټینګه وویل چې د القاعدې د مشرانو په اړه وړ کړنې ترسره کړي، موږ له هغوی وغوښتل چې له امریکا سره د القاعدې په اړه مالومات شریک کړي، موږ له پاکستان سره جدي مشکلات لرو خو د دغو مشکلاتو سره ، سره غواړو تر کومه ځایه چې کولی شو پاکستان د امنیت او له ترهګرۍ سره په مبارزه کې له ځان سره ولرو... .» (هماغه کتاب:۴۶۶مخ)

د امریکا د چارواکو له دریځ او پالیسۍ داسې څرګندیږي چې پاکستان د اتومي وسلو او ترهګرو په لرلو سره امریکایانو ته ځان (بابو) جوړ کړی دی چې امریکایان ورڅخه په وېره کې دي، له دې امله پاکستان د امریکا پر لکۍ باندې پښه ایښې ده، هغه خبره چې وایي:(په تش باد باندې د امریکایانو اودس نه ماتیږي، تر څو هر څه مردار نه کړي.) بې نظیر بوټو وایي چې جنرال مشرف په دې هڅه کې ؤ چې بین المللي ټولنه قانع کړي چې هغه یوازینی کس دی چې له بنسټپالو څخه د پاکستان د اتومي وسلو ساتنه کوي. (بې نظیر بوټو دختر شرق: دري ژباړه: علي رضاء عیاري.۵۵۱مخ)

بله دا چې عمران خان (دغه کل ږیرۍ مفتي صاحب) چې په ۲۰۱۸ز، کال کې د پاکستان صدراعظم وټاکل شو په افغانستان کې یې د جهاد فتوا صادره کړه او پاکستاني پارلمان په یوه وینا کې له یوې خوا د ترهګرۍ سره په مبارزه کې پاکستان همکار وباله خو له بل پلوه یې اسامه بن لادن ته شهید وویل او د پاکستان د پخوانیو صدراعظمانو پر بهرني سیاست یې هم نیوکه وکړه چې امریکا سره یې د تروریزم پر وړاندې مبارزه کې ګډون، د دوی (تېروتنه) وه.»



عمران خان وویل چې واشنګټن په ګاونډي هېواد افغانستان کې د خپلو ناکامیو په تړاو د پاکستان پر وړاندې ناسم لفظ کاروي او په دغه هیواد کې د خپلې ناکامۍ پړه پر پاکستان اچوي. هغه زیاته کړه: تر ټولو مهمه دا چې په ۲۰۱۱ز، کال کې کله چې امریکايي ځواکونو د اسامه بن لادن پر ضد شپنیز عملیات تر سره کړل، موږ یې نه وو خبر کړي.

عمران خان پارلمان ته وویل: »موږ د تروریزم پر ضد جګړه کې له امریکا سره همکاري وکړه خو هغوی دلته راغلل او هغه [بن لادن] یې وواژه هغه یې شهید کړ او... هغوی موږ ته [د دغو عملیاتو په اړه] مالومات نه وو راکړي، سربیره پر دې چې موږ د تروریزم پر وړاندې ګډه مبارزه کې خپل ۷۰ زره خلک له لاسه ورکړي دي.

عمران خان همدا راز ویلي د تروریزم پر ضد جګړه کې له امریکا څخه ملاتړ کوو، اما په بدل کې یې له تحقیر سره مخامخ شوي یو. هغوی په افغانستان کې د خپلې هرې ناکامۍ په اړه موږ ملامتوي. د خان په خبره امریکا یوازې په دې دلیل موږ ملامت ګڼي چې په افغانستان کې بریالۍ نه شوه.» (https://p.dw.com/p/3eNLy)

پاکستان په ابېټ آباد کې د اسامه د استوګنې کور له بیخه ونړاوه، تر څو په دې ډول له هغې بدنامۍ څخه ځان خلاص کړي چې اسامه د پاکستان د پوځي آکاډمۍ په څنګ کې اوسېده خو پاکستان نه شي کولی په دا ډول کړنو سره د تاریخ له پاڼو خپله تاریخي بدنامي پاکه کړي.

یادونه:

امریکایانو اسامه د خپلو ماشومانو پر وړاندې، په داسې حال کې وواژه چې وسله ورسره نه وه، هغه یې پر سر ټنده او چپه سترګه باندې څلور پنځه مرمۍ ویشتلې ؤ، د اسامه ښځه او (۱۲) کلنه لور یې هم ټپي شوي وې، دوه تنه پښتانه چې د اسامه د ساتلو په موخه ګمارل شوي وو هم ووژل شول.

د اسامه (۱۲) کلنه ټپي لور په روغتون کې خپلې مور او پاکستانیو چارواکو ته وویل چې امریکایانو لومړی زما پلار ونیو او وروسته یې وویشتلو... .

وایي چې په دغه کور کې (۹) تنه ماشومان اوسېدل چې د اسامه او دوو تنو پښتنو ماشومان وو، دوی ښوونځي ته نه تلل او له کوره یې بېدیا نه پرېښودل.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

امریکایان وایي چې له اسامه سره وسله نه وه یوازې له یو تن سره وسله وه چې تر ځلوېښتو دقیقو پورې یې جګړه وکړه، دا چې له اسامه سره وسله نه وه او هغه یې د خپلو ماشومانو پر وړاندې پرته له محاکمې وواژه دا په خپله یو ترهګر عمل دی، کله چې د ترهګرۍ پر وړاندې عادلانه جګړه کې یو ترهګر بې وسلې وي نو ژوندی باید ونیول شي. دا به مو هېڅ کله هېر نه شي چې د امریکا د نیویارک په لوړ پوړو تجارتي مرکزونو کې بې ګناه خلک په اور کې سوزیدل او له کړکیو یې ځانونه لاندې غوځول.
اوباما وویل:«اسامه ووژل شو او عدالت ترسره شو.»
وروسته له څو ورځو د ملګرو ملتونو د هیومن واچ مؤسسې له امریکایي چارواکو پوښتنه وکړه چې بن لادن ولې بې محاکمې ووژل شو؟ په داسې حال کې چې وسله نه وه ورسره. (بې، بې، سي، ۱۳۹۰/۲/۱۹ل. ل)
اوباما وویل: څوک چې د اسامه وژل تر پوښتنې لاندې راولي نو د خپل سر غم دې وکړي. مانا دا چې هغه لیونی دی.
موږ اوباما او نورو ته چې د اسامه بې محاکمې وژل عدالت بولي وایو چې د دوی او اسامه په کړنو کې هېڅ توپیر نه شته که اسامه بې محاکمې انسانان وژلي وي نو دوی هم بې محاکمې اسامه او نور بې شمېره انسانان وژلي دي.








نېټه: ۱۴۰۲/۱۱/۱
نور بیا...


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځير و لولـئ